# د ډیورنډ توافق لیک یا د ۱۸۹۳ کال کابل کانونشن

په داسې حال کې چې د هندوستان په خوا کې د افغانستان د سرحدي سیمې په اړه ځینې مسئلې پیدا شوي دي او په داسې حال کې چې دواړه والا حضرت امیر او د هندوستان حکومت هیله من دي، چې دغه مسئلې د دوستي په پوهاوي او د دواړو د نفوذ د ساحو د حد په ټاکلو سره حل شي، ترڅو په راتلونکې کې ددغو متحدو حکومتونو ترمنځ ددغې موضوع په سر د اختلاف نظر نه وي په دې وسیله په لاندې ډول سره موافقه وشوه:

۱_د والا حضرت د ختیځې او سهیلي سرحد توابع دې له واخان نه د پارس تر پولې پورې هغه لیکه تعقیب کړي، چې په هغې نقشې باندې ښوول شوې ده، چې له دغه توافق لیک سره مله ده.

۲_د هندوستان حکومت به هیڅ وخت په هغو سیمو کې چې له دغې لیکې نه اخوا د افغانستان په لور پرتې دي، مداخله ونه کړي او والاحضرت امیر به هیڅکله په هغو سیمو کې چې له لیکې نه اخوا د هندوستان په لور پرتې دي، مداخله ونه کړي.

۳_د برتانیې حکومت په دې ډول موافقه کوي، چې والاحضرت امیر دې اسمار او تر هغه پورته دره تر چاناک

Web Publication www.sabawoon.com - All Rights Reserved by Prof. M. Hassan Kakar PHD

پوره وساتي. له بلې خوا والاحضرت موافقه کوي، چې دی به هېڅ وخت په سوات، باجوړ يا په چترال کې د باشګل يا ارنوايي درې په ګډون مداخله نه کوي. داسې هم د برتانيې حکومت موافقه کوي، چې د برمل سيمه والاحضرت ته پرېږدي، کومه چې په هغې مفصلې نقشې کې ښوول شوې، چې والاحضرت ته دمخه سپارل شوې ده او والاحضرت د پاتې وزيري ملک او داوړ په هکله له خپلې ادعا نه تېرېږي. په همدې ډول والاحضرت د چاغه په اړه له خپلې ادعا څخه تېرېږي.

۴_ د سرحدي سيمې ليکه به د افغان او برتانوي کمشرانو له خوا له دې وروسته په تفصيل سره وکارله شي او حدبندي به شي په کوم ځای کې چې د تطبيق وړ او مطلوب وي. ددغو کمشنرانو مقصد به دا وي، چې د سرحد په ټاکلو کې متقابلې پوهاوي ته سره ورسېږي. داسې چې دغه ليکه دې تر نهايي امکان پورې د هغې نقشې له مخې وي، چې له دغه توافق ليک سره مله ده، په داسې حال کې چې ددغې سرحدي سيمې د ګاونډيو کليو د موجودو محلي حقوقو رعايت پوره شي.

۵_د چمن د موضوع په اړه والاحضرت د برتانوي نوې قشلې په هکله له خپل اعتراض نه تېرېږي او برتانوي حکومت ته هغه حقوق پرېږدي، چې د سرکې تيلرای (Sirkai Tilerai) په اوبو کې يې په بيه اخيستي وو. د سرحد سيمې له دغه ټکي نه به ليکه په لاندې ډول وکارله شي:

Web Publication www.sabawoon.com - All Rights Reserved by Prof. M. Hassan Kakar PHD

*دغه لیکه به پښه کوتل ته نږدې د خوجه امران غرو له سر نه، چې د برتانیې په سیمه کې به پاتې کېږي، په هغه لور کښله کېږي چې مرغه چمن او شاروبو چینه به افغانستان ته پاتې کیږي او د نوي چمن چوڼۍ او د افغان پوسته، چې د لښکر ډنډ په نامه یادېږي، تر نیمایي پورې رسیږي او په داسې حال کې چې {لیکه} به د جنوب په لور روانه وي، د خوجه امران د غرو سره به بیا یوځای کېږي. په دې ډول چې د غوښې پوسته به د برتانیې په علاقه کې او د غوښې په جنوب او لویدیځ کې د شوراوک سړک به افغانستان ته پرېږدي. د برتانیې حکومت به ددغه سړک تر نیم میلي پورې په هېڅ ډول مداخله نه کوي.*

۶_ ددغه توافق لیک دغه پورته فقرې د هندوستان د حکومت او د افغانستان د والاحضرت له خوا د نظر ټول عمده اختلافات، چې د سرحدي سیمې په اړه د دوی ترمېنځ پیدا شوي وو، د پوره او قناعت کوونکې فیصلې په ډول ګڼل کېږي او دواړه د هندوستان حکومت او والاحضرت په ذمه اخلي، چې د جزئیاتو په هکله ټول اختلافات لکه هغه چې وروسته به د هغه منصبدارانو له خوا پرې غور کېږي، چې د سرحدي لیکې د حدبندۍ لپاره ټاکل کېږي، د دوستۍ په روحیې سره به فیصله کېږي. ددې لپاره چې تر هغو چې ممکنه وي د دواړو حکومتونو ترمېنځ د شکونو او ناسم

Web Publication www.sabawoon.com - All Rights Reserved by Prof. M. Hassan Kakar PHD

پوهاوي سپيونه له مېنځه ولاړ شي.

۷_ د هندوستان حکومت، چې د والاحضرت له روغ نيتې نه د برتانيې حکومت په اړه پوره ډاډمن شوی او غواړي افغانستان پياوړی او خپلواک ووينې، د والاحضرت له خوا د جنګي لوازمو په رانيولو او واردولو باندې به اعتراض ونه کړي او دوی به په دغه هکله په خپله څه مرسته ورسره وکړي. پر هغه سربېره ددې لپاره چې د والاحضرت د هغې دوستې روحيې نښه وساتله شي، چې په دغو مذاکرو کې يې ښوولې ده، د هندوستان حکومت ژمنه کوي چې په هغو دولسو لکو کې شپږ لکه روپۍ زياتې راوستل شي، چې والاحضرت ته هر کال د مالي مرستې په ډول ورکول کېږي.

هنري ماتمر ډيورنډ د هندوستان د حکومت د باندنيو چارو وزير
امير عبدالرحمن خان، د افغانستان او د هغه د توابعو امير
کابل، ۱۲ نومبر ۱۸۹۳

❋ ❋ ❋

Web Publication www.sabawoon.com - All Rights Reserved by Prof. M. Hassan Kakar PHD